لوړو زده کړو وزارت

پکتیا پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

Ketabton.com

# د کاظم خان شیدا په دیوان کې د تشبیې ډولونه

( د لیسانس دورې پایلیک )


لیکوال: دلاور اعتماد

لارښود استاذ: پوهنیار سلطان زاهد


کال............................................................................................................ ۱۳۹۸ هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

خپلو والدینو ته، چې خپل حق يې نشم ادا کولای.

خپلو ترونو ته، چې له ماسره يې مادي او معنوي مرستې يې کړي دي.

د خپلې کورنۍ نورو غړو، ملګرو او استادانو ته، چې له ما سره يې د هر ډول مرستو ته تيار وهلی ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

# د لارښود استاذ نظر

پکتیا پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ، پښتو څانګې د ۱۳۹۸ ل.ل کال فارغ التحصیل ښاغلی ( دلاور اعتماد ) چې د څلورکلنې تحصیلي دورې پای ته د رسېدو په موخه يې له اړوندې څانګې سره په مشوره ( د کاظم شیدا په دیوان کې د تشبیه ډولونه ) ترعنوان لاندې موضوع غوره کړې وه او وروسته له غوراوي يې له ما سره وخت په وخت ليدلي او د موضوع د لا ښه ترتيبولو په پار يې را څخه نظرونه غوښتي ،نو د ګډو همکاريو په پايله کې د محترم په هنرمندو ګوتو يو څه رغېدلي،چې د پښتو ژبې او ادب د دردونو دوا کېدلی شي.

زه يې د لارښود استاذ په توګه د نومورې دا لومړنی هڅه( سرهددې، چې نيمګړتياوې به لري ) ستايم او د پوهې په ډګر کې ورته د لا برياليتوبونو غوښتونکی يم.

پوهنيار سلطان زاهد

ketabton.com - The Digital Library



# د پیل خبــرې

د لوی خدای ﷻ ډېر کرم او مهرباني ده ،چې خپله څلور کلنه تحصلي دوره په پکتیا پوهنتون کې بشپړه وم. دلوړوزده کړو دلایحې سره سم هرمحصل ته دڅلورم ټولګي داتم سمسترپه پیل کې دلېسانس سند ترلاسه کولو په موخه داړونده څانګې څخه دمونوګراف (پایلیک) لپاره یوه څېړنیزه موضوع ورکول کېږي ماته هم پکتیا پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتوڅانګې له خوا (د کاظم خان شیدا په دیوان کې د تشببه ډولونه) ترسرلیک لاندې یوه څېړنیزه اوعلمي موضوع دپوهنیار سلطان زاهد ترلا رښوونې لاندې راکړل شوه. ما د غه موضوع په دوو څپرکو کې له پوره جزیاتو سره بشپړه کړه.د نوموړې موضوع په ترتیبولوکې ما ، له معتبرو ماخذونو او سرچینوڅخه استفاده وکړه.

زه د ښوونځي په لومړنیو ټولیګو کې وم ،چې له راډیو څخه به مې: موسیقي ، ډرامې ، دیکلومه شعرونه ، کیسې ، او ادبي خپرونې اوریدلې ،چې په ما کې به یې یو ویده احساس راوېښاوه ورو ، ورو مې له ژبو او ادبیاتو له پوهنځي سره بې ساري مینه پیدا شوه. کله مې ،چې د کانکور ازموینه ورکړ همېشه به مې د خدای ﷻ دربار ته لاسونه پورته کول ،چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شم هماغه وشو ،چې زه دغې لویې هیلې او بریا ته ورسېدم.

لکه څرنګه ،چې مونوګراف د لیکوالۍ پیل ګڼل کیږي، د مونوګراف له لیکلو او بشپړولو څخه وروسته به ټولنې ته ورمخامخ کیږو په ادبیاتو پوهنځي کې موږ ژباړه، لیکوالي، ګرامر او نور مضمونو لوستي ؤ ؛نو موږ مکلف یو ،چې دغه کوچنۍ څېـړنه په خپله ولیکو ځکه ،چې موږ د پوهنتون په اکادمیک چاپیریال کې څلور کالونه تېـر کړل.حکومت زموږ ته بدل اعیشه راکوي موږ امنیت تظمینوي کورنۍ مو د خپلې څلور کلنې دورې لپاره ستونزې او مشکلات ګالي....

زه ډېر داسې زده کړیالان د پوهنتون په اکاډمیک چاپیریان کې وینم ،چې د پېسټ او کاپي پسې ګرځي ما ته خپل وجدان اجازه رانه کړه ،چې خپل ضمیر ته ملامت شم. له خپل لارښود استاد پوهنیار سلطان زاهد ، د کورنۍ غړو او ملګرو او نور استادانو څخه ډېـــره مننه کوم ،چې له ما څخه یې هېڅ ډول مرستې نه دي سپمولې.

ketabton.com - The Digital Library



# لړلیک

لړلیک.......مخ

سریزه.......۱

د شاعر پېژندنه.......۲

د بیان لغوي او اصطلاحي پېژندنه.......۶

د بیان د علم موضوع.......۸

د بیان علم ګټې.......۹

د تشبیې پېژندنه.......۱۰

د تشبیې ارزښت.......۱۱

د تشبیې ارکان.......۱۲

مشبه.......۱۳

مشبه به.......۱۳

وجه شبه.......۱۴

د تشبیې ادات.......۱۴

۱ - د طرفینو د موقیعت په لحاظ د تشبیې وېش.......۱۵

۱- ۱ - مفروقه تشبیه.......۱۵

۱- ۲ - ملفوفه تشبیه.......۱۶

ketabton.com - The Digital Library



۲ - د ابتـذال او نـدرت په لحــاظ د تشبیې وېش............................................ ۱۷
۲ - ۱ - مبتذله تشبیه.................................................................................. ۱۷
۲- ۲ - نادره تشبیه................................................................................... ۱۸
۳ - د وجه شبه په لحاظ د تشبیې وېش.................................................... ۲۰
۳ - ۱ - مفصله تشبیه.................................................................................. ۲۰
۳ - ۲ - مجمله تشبیه.................................................................................. ۲۱
۳ - ۲ - ۱ – قریبه (نیږدې) مجمله تشبیه:.......................................................... ۲۱
۳ - ۲ - ۲ – بعیده (لرې) مجمله تشبیه.............................................................. ۲۲
۴ - د اداتو په لحاظ د تشبیې وېش............................................................ ۲۳
۴ - ۱ - مرسله یا مظهره (ښکاره) تشبیه........................................................ ۲۳
۴ - ۲ - موکده تشبیه................................................................................... ۲۵
۴ - ۲ - ۱ - اضافي موکده تشبیه....................................................................... ۲۶
۴ - ۲ - ۱ - ۱ - تشبیهي اضافت............................................................................ ۲۶
۴ - ۲ - ۱ - ۲ - تلمیحي اضافت............................................................................ ۲۷
۴ - ۲ - ۱ - ۳ - سمبولیکي اضافت.......................................................................... ۲۸
۴ - ۲ - ۲ - توصیفي موکده تشبیه..................................................................... ۲۹
۴ - ۲ - ۳ - موکده محض تشبیه........................................................................ ۳۰

ketabton.com - The Digital Library



۵ - عــادي او غـیــر عــادي وېــش........................................................۳۱

۵- ۱- عادي تشبیه...........................................................................۳۱

۵- ۲- غیر عادي تشبیه.....................................................................۳۱

۵- ۲ - ۱- تفضیلي تشبیه.....................................................................۳۱

۵ - ۲ -۲-مقلوبه تشبیه........................................................................۳۲

۶ - د ماهیت په لــحــاظ د تشبیې وېش...................................................۳۴

۶ - ۱- محسوسه تشبیه له محسوسې سره.....................................................۳۴

۶ - ۲- معقوله تشبیه له معقولې سره..........................................................۳۵

۶ - ۳- معقوله تشبیه له محسوسې سره........................................................۳۶

۶- ۴- محسوسه تشبیه له معقولې سره........................................................۳۶

۷ - د طرفینو د تعادل په لحاظ د تشبیې وېش..............................................۳۸

۷- ۱- تسویه....................................................................................۳۸

۷- ۲- جمع......................................................................................۳۹

پایله..........................................................................................۴۱

وړاندیزونه.....................................................................................۴۲

اخځلیکونه.....................................................................................۴۳

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

د بیان علم په تشبیې ، استعارې ، مجاز او نورو څانګو په ګاڼه باندې سنبال شوي دي ، د ژبې او لیك د خوږوالي ، په زړه پورې والي ، څرګندتیا او د فصاحت او بلاغت په ګاڼه د ښکلي کولو یو اساسي شرط دی ، چې ددې علم لومړی او اسانه او روانه څانګه دې تشبیې وي. عام وګړي ، شاعران او هغه کسان ، چې په ولس کې د ټوکو ټکالو طبع لري په خپلو خبرو کې له تشبیې څخه کار اخلي . هغه ځوك ، چې په چا پورې ملنډې وهي یا د هغه بدي بیانوي ؛ کله کله پکې د وجه شبه مسئله رامنځ ته شي. لکه: یو ځوك ډېر نا لایق وي؛ نو موږ ورته اپلاتون کلمه کاروو ، چې اپلاتون د خپل وخت ډېر ځیرك، هوښیار او مشهور فلیسوف ؤ؛ خو دلته د نا لایق او اپلاتون تر منځ د وجه شبه تضاد د خلکو د خندا سبب ګرځي. یعنې اپلاتون په عقل او پوهه کې مشهور ؤ او دی په جهالت او بې عقلۍ کې هماغومره شهرت ته رسېدلی دی.

پورته ذهینت مخاطب ته ورکول د تشبیې کمال دی، ځکه ددې علم د پوهانو په نظر په دې خوا راواوښت او وخت په وخت یې پکې ډېر اثار ولیکل شول ، چې ددې لړۍ په کړنو کې ماهم ( د کاظم خان په دیوان کې د تشبیې ډولونه ) تر سرلیك لاندې مونوګراف ( پایلیك ) ولیکه.

څرنګه ، چې کاظم خان شیدا له یوې علمي او ادبي کورنۍ څخه راوتلی دی، له بلې خوا څخه ده ډېره موده په هند کې په جلا وطنۍ سره تېره کړې ده. ؛نو ده د خپل ژوندانه ټول اړخونه د سوځنده اشعارو په قالب کې واچول او د زړه تسل یې پرې وکړ.

د کاظم خان شیدا په اشعارو کې د تشبهاتو او استعارو اباسین غورځنګونه وهي او د نازکخیالۍ نیلي یې پکې لکه د سیلۍ او باد ډېر ګړندي روان دي. د شیدا دیوان د عشق مستۍ جوش او حرارت سره لمبه او دساړه او بې سوزه ژوند لپاره د غضب کروړه. کاظم خان شیدا د حمید بابا د نازك خیالۍ د مکتب غښتلی او قوي ملګری دی. او د پښتو ژبې یو پیـاوړی شاعر ګڼل کیږي. که د شیدا دیوان و پټل شي ؛نو هلته به دا پته ولګیږي ،چې شاعر یوازې د ګل، بلبل، د شمعې، خال وخط، عشق او معشوق شاعر نه دی ؛ بلکې د ده په کلام کې جغرافیوي ، اجتماعي ، اخلاقي ، وطن پرستۍ ، فلسفي او د ژوندانه ډول ډول مضمونونه پراته دي. د شیدا په شاعرۍ کې ، چې کوم شعـر ډېـر زموږ تر سترګو کیږي هغه د وطن یـاد او د هېواد مینه ده.

ketabton.com - The Digital Library



## کاظم خان شیدا لنډه پېژندنه


کاظم خان شیدا د افضل خان کشر زوی د اشرف خان لمسی او د خوشحال خان کړوسی دی . په (۱۱۴۰ هـ ق) کال کې په اکوړه خټک کې زیږېدلی دی.

کاظم خان شیدا په داسې وخت کې سترګې وغړولې ، چې په هند کې د فیوډالي مغلو ډیوه په مړه کېدو وه او په مقابل کې انګریزي استعمار دې خاورې ته را روان ؤ ؛ خو د مغلي حکومت تاثیر لا په هغې خاورې باندې پاتې ؤ.

ده د خپل وخت مروج علوم ولوستل او د مطالعې سره یې ډېر شوق ؤ. کله ، چې افضل خان مړ شو او د قوم مشري د ده مشر ورور سعدالله خان ته پاتې شوه ؛نو سعدالله خان تند مزاجی او د شیــدا له نازک خیالۍ سره جوړه رانغله هماغه ؤ ، چې د خپل ورور او خپلوانو نه خوابدی مرور شو.

لومړی کشمیر ته لاړ هلته یې یو څه موده تېره کړه او د هغې ځای څخه بیا سر هند ته راغی او د سر هند څخه رامپور ته لاړ. ده به په هر ځای کې د علم او ادب لټونه کوله تر څو په رامپور کې د نواب علی محمد پښتون رییس سره د نیږې نه اشنا شو او نواب دغه نازک خیال شاعر ډېر نازاوه ، چې شیدا بیا د مرګ تر ورځې پورې ددې ځاي څخه هڅه او مېل ونکړ.

د نواب علی محمد څخه وروسته نواب فیض الله ، چې علم دوسته او ادب پالونکی سړی وه د رامپور حکمران په توګه مکرر شو او نوموړی هم د شیدا لاپســې ډېر قدر وکړ او په هغه وخت کې یې زر روپۍ ورته مکررې کړې وې.



څنګه ، چې شیدا له یوې علمي او ادبي کورنۍ څخه راوتلی دی او له بلې خوا څخه ده ډېره موده په هند کې په جلاوطنۍ سره تېره کړې ده ؛نو ده د خپل ژوندانه ټول اړخونه د سوځندو اشعارو په ښکلي قالب کې واچول او د زړه تسل یې پرې وکړ.

د شیدا په دیوان کې غزلونه ، قصیدې ، مخمس ، مسدس ، قطعې ، رباعیات او داسې نور شعري قالبونه تر سترګو کیږي. د شیدا

ketabton.com - The Digital Library



شاعري د نزاکت ، ژوروالی ، صنایع ، بدیع ، لفظي او معنوي محاسن او نورو لوازماتو په لحاظ اوچته او معیاري شاعري ده.

کاظم خان شیدا خپل دیوان د محمدي صاحبزاده په سپارښتنه او د خپل ورور محمد عابد خان په غوښتنه په (۱۱۸۱ هـ ق) کال کې ترتیب او بشپړ کړی دی.

د ده دیوان نسخې څو ځایه موندل شوې دي.

خان غازي کابلي د کابل مجلې د یوې مقالې په ترځ کې داسې لیکلي دي: ((د شیدا د دیوان دوه قلمي نسخې د رامپور په کتابخانه کې موجودې دي، یوه نسخه یې په غټ (جلی) قلم سره لیکل شوې ده ، چې (۴۱۶) مخونه لري او فیض علی په شاه جهان اباد ډیلي کې په خپل قلم په (۱۱۹۲ هـ) نقل کړې ده. بله نسخه ، چې شیدا په خپل مهروه د راوړتې گوتو ته په لاهور کې ورغلی ده او په برټش موزیم کې خوندي ده. یوه بله نسخه ، چې په (۱۱۹۱ هـ) کال کې لیکل شوې ده. د اسلامي کالج پېښور په کتابخانه کې شته دی.

یوه بله ډېره پخوانۍ نسخه ، چې اټکل کیږي د خټکو د کورنۍ په وخت کې دې لیکل شوې وي دا نسخه اوس په پښتو ټولنه کې خوندي ده

بله یوه نسخه په پېښور کې د اکبر پورې عبدالمستعان کاتب په خط په (۱۳۲۵ هـ) کال کې کاپي شوې او بیا د دغې نسخې څخه په (۱۳۴۰ هـ) کال مولانا ابوالو فانقل اخیستې ، چې دغه نسخه بیا د پوهاند د عبدالحي حبیبي گوتو ته ورغلې وه.

د شیدا دیوان څلور ځلې چاپ شوی دی. یو ځل په (۱۳۳۱ هـ ش) کال په کابل کې او بل ځل په ۱۹۶۵م کال په پېښور کې دریم ځل په ۱۹۶۶ م کال په پېښور کې چاپ شوی دی او څلورځل په (۱۳۸۴) هـ ش کال هم په پېښور کې چاپ شوی دی.

کاظم خان شیدا د دیوان لیکلو څخه (۱۳) کاله وروسته مړ شوی ، چې دغه مطلب یو شاعر په خپل کلام کې داسې راوړی دی:

ketabton.com - The Digital Library



د شیدا په اشیانه کې جهان تریخ شو
د کباب غوندې یې کون و مکان تریخ شو
درست بدن یې ګویا زړه دی په بدن کې
(دل نظیر) هم د کاظم د مرګ تاریخ شو

د کاظم خان شیدا د شعر او شاعرۍ په باب ډېرو ختیځ پوهانو فارسي دانانو اردو ژبو او په خپله پښتنو ادیبانو ډېر څه لیکلي دي ؛ خو موږ دلته ددې ټولو نه تېرېږو او یوازې د څو پوهانو یادونه دلته رانقلوو:

پوهاند حبیبي لیکي چې،(( د کاظم خان اشعارعشقي او اخلاقي خواوې لري ؛ مګر په پښتنو کې دده امتیاز دا دی ، چې شیدا یو نازکخیاله او قوي تخییل خاوند او په شاعرۍ کې د هندي سبک پېرو دی.))

پوهاند رښتین د کاظم خان شیدا د دیوان په سریزه کې ، چې د پښتو د ټولنې له خوا د ښېنوا په تدوین تصحح او مقابله په ( ۱۳۳۱ هـ ش ) کال کې چاپ شوی دی داسې لیکنه کړې ده: کاظم شیدا د نازک خیالۍ استاد د لوړ تخییل پېشوا او د جګ ادبي مقام څښتن دی. ده خپل شعرونه په رنګارنګو خیالونو او استعارو ښایسته کړل د تخییل په دام کې یې د هوا مرغان ونیول د بلبلانو په څېر د سرو ګلونو په ښاخونو په خوند خوند وچغېد د شنو توتیانو په شان د ادب د هسکو غرونو په جګو څوکو والوت هر غزل او شعر یې ته به وایې د ښاپېرو د ملک تصویر یادرام د باغ انځور دی.

دده په شعر کې د تشبهاتو استعاراتو اباسیند غورځنګونه وهي او نازک خیالۍ نیلي پکې لکه د سیلۍ او باد ډېر ګړندي روان دي. د شیدا د یوان د عشق، مستۍ، جوش او حرارت سره لمبه او د ساړه او بې سوزه ژوندانه د پاره د غضب کروړه ده.

په دې لحاظ کاظم خان شیدا د حمید بابا د نازکخیالۍ د مکتب غښتلی او قوي ملګری او د پښتو ژبې یو پیاوړی شاعر ګڼل کیږي.

دی په ( ۱۱۹۴ هـ ق) کال کې د هند په رامپور کې وفات شو. او هلته خښ شو.

ketabton.com - The Digital Library



که د شیدا دیوان وپټل شي؛نو هلته به دا پته ولگیږي چې شاعر یوازې د گل، بلبل، شمع، پتنگ، خال و خط، عشق او معشوق شاعر نه دی ؛ بلکې د هغه په کلام کې جغرافیوي، اجتماعي، اخلاقي، وطن پرستي، فلسفي او د ژوندانه ډول ډول مضمونونه پراته دي. د شیدا په شاعرۍ کې ، چې کوم شی ډېر زموږ تر سترکو کیږي هغه د وطن یاد او د هېواد مینه ده. ده د روه، بگرام او سرای په یاد په خپلو شعرونو کې ډېرې نارې او چغې وهلې دي.(۲: ۳۳۲-۳۳۵)

ketabton.com - The Digital Library



## د بیان لغوي او اصطلاحي پېژندنه

بیان لغوي مانا کشف، ایضاح، څرګندول، سپړل او په ډاګه کـول دي.

اصطلاحاً: بیان هغه پوهه ده ، چې د غیر مطابقې دلالت په ډول د مطلب اداء رانبیې.

شمس الدین د حدایق البلاغت مؤلف د بیان تعریف په اړوند داسې لیکي: « بیان هغه اصول او قاعدې دي ، چې د هغو په واسطه سره یوه مانا په بېلابېلو عباراتو کې داسې اداء کیږي ، چې یوه نسبتاً بلې ته ډېره واضحه وي. » د حدایق البلاغت مؤلف دلالت په درې ډوله راپېژني:

۱. وضعي یا مطابقي دلالت چې یو لفظ په خپله اصلي او لغوي مانا باندې دلالت وکړي، لکه د انسان کلمې دلالت په یوه ناطق حیوان باندې، یا د کور کلمه ، چې په خپله اصلي او وضعي مانا (خانه) ، چې اجزایې، دروازه، څلور دیوالونه احاطه تشکلوي دلالت کوي.

۲- غیر مطابقي یا تضمیني دلالت: چې کلمه د لغوي مانا نه غیر په مجازي مانا باندې استعمال شي، لکه د (لاس) کلمه ، چې لغوي مانا یې د بدن یوه عضوه ده، د مدد او کومک په مانا یې کارول مجازي دلالت دی.

۳ - التزامي دلالت: چې د لزوم په صورت کې د یوې کلمې نه د لغوي مانا غیریوه بله مانا واخیستل شي. د هوسۍ کلمې نه د نجلۍ مانا اخیستل یا د اور کلمه د محبت په مفهوم استعمالول.۶ :۴ -۷

د بیان په علم کې زیاتره د غیرو وضعي او التزامي مانا څخه کار اخیستل کیږي. د زیات وضاحت لپاره د بیان په علم کې د یوه مطلب په بېلابېلو لارو د څرګندولو لپاره د تخییل، تشبیې، استعارې، او تصویر څخه کار اخیستل کیږي همدغه تشبهات، استعارې او تخییل دی ، چې په کلام ښکلا او ښایي پیدا کوي.

د ساري په ډول که وغواړو ، چې د یو چا د سخاوت په اړه خبرې وکړو، دا مطلب په څو مختلفو ډولونو بیانولای شو:

توریالی حاتم دی.

ketabton.com - The Digital Library



توريالی بحر دی.

توريالی په لاس کې خلاص دی.

توريالی په ورکړه کې لکه حاتم دی.

د بيان دغه ډولونه د توريالي د سخاوت په باب د مطلب د افادې او د کلام د زېبايي او ښکلا له مخې متفاوت دي.

او په همدې ډول که وغواړو ، چې د يو چا دصورت او دښکلا څرګندونه وکړو« د هغه څېره ښکلې ده.» کولای شو ، چې ووايو: د هغه څېره د سپوږمۍ په شان ښکلې ده، هغه لکه سپوږمۍ ده. د هغې د مخ رڼا لکه د سپوږمۍ ده او په همدې ډول نور.(۴: ۶-۷)

ketabton.com - The Digital Library



## د بیان د علم موضوع

پخوایې د بیان د علم موضوع درې شیان، تشبیې، مجاز او کنایې گڼلې وو ؛ مگر دا ، چې بیان د یوې مانا دلالت په بېلابېلو لارو راښیي ؛نو د خیال متفاوت او متمایز صورتونه دي ، چې د هغه په واسطه یو مفهوم یامانا په بېلابېلو ډولونوبیانولای شو؛نو په دې اساس په معاصره اصطلاح کې تصویر. سمبول، اسطوره هم د بیان علم د بحث موضوعات تشکلوي. ضرور نه ، چې د هریو په باب بحث وکړو.(۴: ۷)

ketabton.com - The Digital Library



## د بیان علم ګټې

د بیان علم موږ له دې خبرې سره اشنا کوي ، چې څه ډول یوه معنی په بېلابېلو لارو چارو یوه یې تر بلې غوره او په زړه پورې وي وړاندې کړو. موږ په ژبه کې هر کلمه یوازې یوه حقیقي مانا لري او نورې ټولې یې مجازي دي. پر دغو مجازي ماناوو پوهېدنه د بیان د علم له ګټو څخه شمېرل کیږي. (۵۳:۸)

دا علم د یوې مانا په مختلفو ډولونو اداء او یا په ژبه کې مو له بېلابېلو انځورونو سره مخامخ کوي او دا را زده کوي ، چې څه ډول به د شاعرانو هدف او مقصد له هغو ویینو او عبارتونو ، چې په اصلي ماناوو کارېدلي نه دي، لاس ته راوړو؟ له دې کبله د بیان علم د ادبیاتو نړۍ ته د ورتګ لاره ده. هر علم ځانګړی معیار، اصول او د میتودولوژۍ په اصطلاح کې جدا روش پوهنه لري ، چې هغه پرې سنجېدلی او تللی شي. د بېلګې په ډول د کیمیا په لابراتور کې تجزیه کیږي او ددې امېینښت له مخې اثبات او یا ردیږي. ژبه د ګرامر په وسیله ارزول کیږي. د ادبیاتو د ډېرې ستري برخې محک تر ډېره ځایه د بیان علم دی. د بیان په وسیله د ادبي اثارو ځواکمني او آفاقیت او یا یې خامۍ او ابتذال ارزولی او هم یې نوښتونو او تقلید په ننبه کولی شو او په ټولنیز ډول ډېرو ادبي مسایلو ته ژر ځواب ویلی شو ، ځکه ادبي ژبه په مجموعي او کلي ډول انځوریزه (تصویري) ژبه وي او د انځور څېـړنه د بیان د علم هدف دی.

کله ، چې د بیان د علم له اصولو پوهه لاس ته راغله، ګټه یې داده ، چې کولی شو یو مطلب په څو ډوله متفاوت شکل اداء کړو ، ؛ خو په دې شرط ، چې د غه افادات بېلابېل شکلونه ولري او همدارنګه د وضاحت او هنري اړخونو له مخې سره جدا وي او توپیر ولري او یو مطلب په مجازي یا حقیقي ماناوو کې اداء شي.

ketabton.com - The Digital Library



## د تشبيې پېژندنه

تشبيې په لغات کې ورته کولو، يو شی د بل په شان کېدو ته وايي.

اصطلاحاً: په يوه خاصه مانا کې د دوو څيزونو ګډون ته تشبيې وايي. يا په بله وينا: يو څوک، يو څيز، يا يو حال د بل چا، يا بل حال سره ورته کول تشبيې ده؛ خو په دې اړ (شرط)، چې د دواړو څيزونو يا حال او کيفيتونو تر منځ يو يا څو ګډ صفتونه موجود وي. د مثال په ډول که ووايو چې:

«ناپوهي مرګ او پوهه ژوندون دی.» نو په دې وينا کې ناپوهي او جهالت د مرګ سره علم او پوهه د ژوندون سره تشبيې کړې ده.(۴: ۸)

ketabton.com - The Digital Library



## د تشبيې ارزښت

په ځينو خبرو کې د تشبيې ارزښت خورا ډېر دی، د تشبيې په واسطه کلام د فصاحت او بلاغت مقام خپلولی شي. ډېر ځله يوه خبره لکه څنگه ، چې يې ويناوال احساسوي هغه شان يې په ساده کلام کې اورېدونکي يا لوستونکي نه شي ورلېږلی. همدا تشبيې ده ، چې ددې په واسطه د محسوسو ځيزونو وضاحت په ډېر ښه ډول کيدای شي او همدارنگه هغه ځيز ، چې د محسوساتو له کړۍ څخه وتلي وي د تشبيې په واسطه حسي نړۍ ته لار پيداکولای شي.

د تشبيې بل ارزښت دادی ، چې کلام هنري کوي او کله ، چې کلام هنري شي په زړه پورې شي. د تشبيې په واسطه يوه موضوع يا مطلب د اورېدونکي په ذهن کې په څرگند ډول کېني. د تشبيې په بنسټ کلام انځوريز کېږي او د کلام او د کلمو حقيقي ماناوې يو په بل کې سره واخښل شي او يو بل مفهوم ترې راووځي.(۸:۹۱)

تشبيې د ډېرو گټو او غرضونولپاره راوړل کيږي او دا ټول په مشبه کې وي لکه:تحسين، د پټ حال او وصف څرگندول،نا اشنا اشنا گرځول داورېدونکي په ذهن کې ښه کېنول، دروند گڼل ، سپکاوی،نادر او سخت گڼل او داسې نور( ۵:۱۲۴)

ketabton.com - The Digital Library



## د تشبیې ارکان

د تشبیې بنسټیز رکنونه ( مشبه او مشبه به) دي ، چې بې له دوی تشبیې نه بشپړېږي. ددې تر څنګ دوه نور رکنونه ( دتشبیې ویيکي او وجه شبه ) هم لري. ، چې کله په کلام کې څرګند ډول راوړل شوي وي او ؛ کله نه وي راوړل شوي.

محمد طاهر فاروقي په خپل اثر(فصاحت و بلاغت) کې پر پورته څلورو رکنونو سربېره یو بل رکن (دتشبیې غرض) هم ورزیات کړی ، چې دی دهمدې له امله د تشبیې رکنونه پنځه ګڼي. په هره تشبیې کې پنځه څیزونه وي: (مشبه، مشبه به، د تشبیې ویيکي، وجه شبه، د تشبیې غرض) دې پنځه وارو ته د تشبیې ارکان وایي او مشبه او مشبه به ته د تشبیې طرفین وایي.

ما ، چې په دې اړه څومره کتابونه او څېړنې لیدنې د ټولو د کار په پایله کې همدا څلور رکنونه (مشبه، مشبه به، وجه شبه او د تشبیې ویيکي) په توګه شوي دي او چا هم د تشبیې غرض د رکن په نامه نه دی راوړی. ( ۸: ۶۳ )

تشبیې لاندې رکنونه لري:

۱- مشبه

۲- مشبه به

۳- وجه شبه

۴- تشبیې ادات

د تشبیې څلور رکنو څخه مشبه او مشبه به، ته د تشبیې هم طرفین وایي. چې په تشبیې کې د طرفینو ذکر او موجودیت حتمي ده او دغه دوه رکنه د تشبیې د اصلي ارکان هم نومول شوي دي، اما د تشبیې دوه نور ارکان ( د تشبیې وجه او د تشبیې ادات ) د تشبیې د فرعي رکنونه دي ، چې ذکر او شتون حتمي نه دی.(۴: ۹)

ketabton.com - The Digital Library



د مشبه او مشبه به تر منځ د مشترف صفت یا وجه شبه موندل د هر چا لپاره ممکن نه دي یعنې د هر چا تر پوهې پورې اړوندیږي، دا کار یوازې شاعران په درست ډول سره کولای شي.

۱ - **مشبه**: څوک یا شی یا حال دی ، چې له بل چا یا حال تشبیې کړای شوی وي، یعنې کوم شي ته ، چې تشبیې ورکول کیږي هغه ته مشبه واي ؛ مثلاً که ووایو چې: ټول غمجن دي، جمله شاعرانه هم نه ده او د تشبیې کوم طرف هم پکې نشته. که ووایو ، چې د غم باران وري. دا جمله تر اولنۍ جملې شاعرانه ده، ځکه غم نه لیدل کیږي ؛ خو باران لیدل کیږي،دلته ( دغم باران ) یو اضافي ترکیب دی اوغم یې د باران سره تشبیې کړی دی غم مشبه او باران یې مشبه به دی.(۴: ۱۰)

یا لکه د کاظم خان شیدا په لاندې بیت کې:

لکه ابـــر په هیـــځ وخـــت نه شـــوې بـــې نمـــه
هـــر ساعـــت زمـــا پـــه ستـــرگـــو کـــې ژړا ده

(۳: ۱۷۳)

په پورته بیت کې شاعر خپل وربځو سره تشبیې کړې دي. سترگې مشبه، ابر مشبه به لکه یې د اداتو توری او لوندوالی یې وجه شبه راغلې ده.

۲ - **مشبه به**: هغه څوک یا شی یا حال دی ، چې د بل چا یا شی یا حال ورته والی او تشبیې له ده سره شوې وي ؛مثلاً: « پوهنه د رڼا په څېر ده .» پوهنه مشبه، رڼا مشبه به شوه.(۴:۱۱)

یا لکه د کاظم خان شیدا په لاندې بیت کې:

چې وصـــال دې و ســـوزان تـــر جـــدایـــۍ
ستا جمـــال لکـــه شـغـلـه زړه مې پتنـــگ و ،

(۳: ۱۵۶)

ketabton.com - The Digital Library



په بیت کې شاعر د خپلې محبوبې جمال شغله ګڼي، او خپل زړه پتنګ ګڼي، جمال مشبه ، شغله مشبه به، زړه مشبه، پتنګ مشبه به دی.

۳ - **د تشبیې وجه شبه**: هغه یو یا څو مشترک صفتونه ، چې د مشبه او مشبه به تر منځ موجود وي د تشبیې وجه شبه یې بولي.(۴: ۱۲)

لکه د کاظم خان شیدا په لاندې بیت کې:

چــې زمــا پــه آتــشـیــن آه نــــرم نـــه شــــه

زړه دې ســخـــت راتـــه تـــر ســنـــګ و آهـــن راوړ

(۱۲۵:۳)

په پورته بیت کې شاعر د مخاطب زړه له کاڼي او اوسپنې څخه کلک ګڼي، زړه مشبه، سنګ او آهن مشبه به راغلي دي. او وجه شبه یې کلکوالی ښودل شوی ده .

**یادونه**: وجه شبه باید په مشبه کې تر مشبه به زیاته کامله ، قوي او ځرګنده وي، یوازې په تفضلي تشبیې کې دغه زیاتوب، کمال، قوت د مشبه په نصیب وي.

۴ - **د تشبیې ادات**: هغه ادات یا کلمې دي ، چې زیاتره د هغو په واسطه سره د مشبه او مشبه به تر منځ تشبیې قایمیږي د تشبیې ادات یې بولي. د تشبیې ادات یا کلمې ؛ کله وي او ؛ کله نه وي. (۱۳:۴).

د تشبیې ادات یا کلمې دادي: په شان، غوندې، هغسې،هسې، څنګه، داسې، غُټې، لکه، ته به وایې، تا به وې، په دود ، په مثال، په څېر په رنګ او ځینې نور.

د تشبیې د اداتو بېلګې په څلرویشتمې صفحې کې په تفصیل سره موندلی شو.

**یادونه**: مشبه د تشبیې تر کلمې وروسته راځي ؛ خو تر غوندې د مخه.

ketabton.com - The Digital Library



## ۱ - د طرفینو د موقیعت په لحاظ د تشبیې وېش

د طرفینو د موقیعت په لحاظ تشبیې په دوه ډوله (مفروقه او ملفوفه) باندې وېشل کېږي.

۱-۱ - **مفروقه تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې په یوه بیت یا مصرعه کې څو مشبه او مشبه به داسې راوړل شي ، چې په هر مشبه پورې مشبه به نیږدې یا څېرمه واقع شوې وي. ما د کاظم خان شید دیوان پاڼه پاڼه پسې وکوت ؛ خو پیدا مې نه کړ.

دغې تشبیې بېلګې په لاندې ډول دي.

سر دې اسمان زلفې وریځې

غاښ دې بربښنا ده خوله دې پرخه وروینه

***

سترګې نرګـــس خوله دې غونچه سره دې لبـــان لیلا

قـــد دې چنـار ګل دې رخســـار زلـفـې مـاران لیلا

شاعر(        )

په لومړۍ لنډۍ کې سر له اسمان سره، زلفې له وریځې سره ، غاښ له بربښنا او دخولې نه وتلې خبره یې له پرخې سره تشبیې راغلې ده.سر مشبه، اسمان مشبه به، زلفې مشبه، وریځې مشبه به، غاښ مشبه، بربښنا مشبه به، خولې نه وتلې خوږه خبره مشبه، او پرخه مشبه به ده.

په دویم بیت کې شاعر سترګې له نرګس، خوله له غونچې، قد له چنار، رخسار له ګل او زلفې یې مارانو سره تشبیې کړې دي. سترګې مشبه، نرګس مشبه به، خوله مشبه غونچه مشبه به، قد مشبه، چنار مشبه به، رخسار مشبه، ګل مشبه به، زلفې مشبه او ماران مشبه به دي.

څرنګه ، چې د هرې مشبه سره مشبه به نیږدې یا څنګ په څنګ راغلې؛ نو د طرفینو د موقیعت په لحـــاظ یې مفروقه تشبیې یې بولو.

ketabton.com - The Digital Library



۱ - ۲ - **ملفوفه تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې مشبه او مشبه به ګڼ او د یوه نه زیات وي ؛ خو د مشبه افراد یوې خواته وي ؛ خو د مشبه به افراد په ترتیب سره بلې خواته وي. لکه: علم او جهل لکه رڼا او تیاره ده.(۵:۱۱۶).

**یا په بله وینـــا**: ملفوفه تشبیې هغه ده ، چې په یوه مسره یا یوه بیت کې مشهبات او په بله مسره یا په بل بیت کې څو مشبه بهات راشي، یعنې مشبه پورې مشبه به څېرمه رانه شي. (۲۴:۴).

:لکه په لاندې بیتونو کې

ستا د زلـــفـو هیبـــت باد په تــېـښـت روان کـــا
د ښـــامـــــار پـــه دود چـــې اوښـــــوري نـــاګـــاه

(۳: ۱۶۰)

چې وصــــال دې و ســـــوزان تـــــر جـــــدایـــې
ستا جمـــال لـکـــه شـغـلـه زړه مـې پتنـــګ و ،

(۳: ۱۵۶)

په پورته لومړي بیت کې شاعر د مخاطب زلفې له ښامار سره او باد یې ناګاه سره تشبیې کړې دي. زلفې مشبه، ښامار مشبه به، باد مشبه، ناګاه مشبه به، راغلي دي.

په دویم بیت کې شاعر د مخاطب حسن شغله ګڼي او خپل زړه پتنګ ګڼي. جمال مشبه، شغله مشبه به او رڼا وجه شبه. زړه مشبه، پتنګ مشبه به، سوځېدل وجه شبه او لکه یې د اداتو کلمه ده.

څرنګه، چې په پورته بیتونو کې مشبهات او مشبه بهات څنګ په څنګ نه دي ؛نو د ملفوفې تشبیې بېلګې یې ګڼلی شو.

ketabton.com - The Digital Library



## ۲ - د ابتــذال او نـدرت په لحـــاظ د تشبیې وېش

د ابتذال اوندرت په لــحــاظ تشبیې په <u>مبتذله</u> او <u>نادره</u> بــانــدې وېشل کــیــږي.

۲ - ۱ - **مبتذله تشبیه**:دا هغه تشبیې ده ، چې په شاعرانو کې خورا زیات استعمال ولــري.

یعنې زیاته سولیدلې او تکرار شوې وي. مثلاً: د مخ تشبیې کول له گل سره، یا د زلفو تشبیې کول د سنبل سره یا د ښــو ورته کول د غـشــو سـره او په همــدې ډول نور. .(۴:۲۶). د یادې شوې تشبیې بېلگې د کاظم خان شیدا په لاندې بیتونو کې کتلی شو:

ستــا چشمــان چــې په ادا ســره بـالا شـــې
تـور بانـه دې گـــویـــا غشـــې په هـــوا شـــې

(۳: ۲۳۹)

د یــــاقـــــوت لــــه پـــردې خــېـژي آوازونــه
چـــې شـیــرین کـــلام پـــه لــبـو کــې ادا کــړې

(۳: ۲۸۹)

چــې روشـــــن یـې په انـــوار تمـام جـهـــــان شو
لا یــې پـــروت لکـــه آفتـاب په مـــخ نـقـاب دی

(۳: ۲۵۶)

لومړي بیت کې شاعر د خپل یار بانه له غشو سره تشبیې کړې دي، بانه مشبه او غشې مشبه به دي. او تېره والی یې وجه شبه راغلې ده.

په دویم بیت کې شاعر د محبوب شونډې له یاقوتو سره تشبیې کړې دي. لب مشبه، یاقوت مشبه به، او سوروالی یې وجه شبه دي. او په درېیم بیت کې شاعر د مخاطب مخ یې له آفتاب سره تشبیې کړی دی. آفتاب مشبه، مخ مشبه به دي. څرنگه ، چې پورته تشبهات سولیدلي او تکراري دي ؛ نوځکه وایو ، چې دا دمبتذلې تشبیې بېلگې دي.

ketabton.com - The Digital Library



۲ - ۲ - **نادره تشبیې**: دا هغه تشبیې ده ، چې په شاعرانو کې استعمال کم وي. او یا کوم شاعر نوې پیدا کړي وي. لکه په لاندې بیتونو کې:

په مستۍ کې یې چشمان لکه اخگر وي
پرې بریان د خوږو زړونو کبابونه

(۳: ۲۱۸)

شین وم زه لکه سپند و خپل سوختن ته
چې په شاخ مې آرام نه وي بې مجمره

(۳: ۱۸۲)

ستا د زلفو هیبت باد په تېښت روان کا
د ښامار په دود چې اوښوري ناګاه

(۳: ۱۶۰)

په هزار نېشه د زړه په سر چیچل کړي
الغیاث دتا د سترګو له زنبوره

(۳: ۱۷۷)

تورې سترګې دې شوې ترې په خندا کې
که هندوې د هند لالبې په ګنګا کې

(۳: ۲۹۴)

په پورته لومړي بیت کې شاعر د خپل محبوب سترګې یې له سکروټو سره تشبیې کړې دي. سترګې مشبه، اخګر مشبه به دي. په دویم بیت کې متکلم خپل ځان له سپېلني سره تشبیې کړی دی. متکلم مشبه، سپند مشبه به دي. په درېیم بیت متکلم د خپل محبوب سترګې یې له غومبسو سره تشبیې کړې دي. سترګې مشبه، زنبور مشبه به دي. او په څلورم بیت کې شاعر

ketabton.com - The Digital Library



د مخاطب سترگې یې د هند له هندوې سره تشبیې کړې دي. سترگې مشبه، هندوې مشبه به دي.

څرنگه ، چې دغسې ډول تشبهات تقـــریباً شــاعرانو لــږ استعمالې کړې دي؛نو نــادره تشبــیه یې بولو.

**یادونه**: په تشبیې کې ابتذال او ندرت د سویې په لحاظ توپیـــر کوي.

ketabton.com - The Digital Library



## – ۳ – د وجه شبه په لحاظ د تشبیې وېش

۳ - ۱ - **مفصله تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې د مشبه او مشبه به تر منځ ګډ صفت یا د تشبیې وجه لفظاً په بیت کې ذکر شوې وي.(۷: ۶۷) .

لکه په لاندې بیتونو کې:

همېشه لکه نرگس گورې اسمان ته
ای د سترگو په ښایست باندې مغروره

(۳: ۱۷۸)

چې دې مخ لکه د صبح صادق سپین وي
په هر کار کې له عالم سره رښتیا کړه

(۳: ۱۸۹)

د غفلت په خوب اوده لکه غونچه وم
هېڅ خبر ورباندې نه وم بهار تېر شو

(۳: ۲۲۱)

په پورته لومړي بیت کې شاعر خپل مخاطب له نرگس سره تشبیې کړی دي. مخاطب مشبه، نرگس مشبه به، لکه یې د اداتو توری او وجه شبه یې مغرورتیا ده ، چې په بیت کې یې لفظاً ذکر راغلی دی.

په دویم بیت کې متکلم د مخاطب مخ له صبح صادق سره ورته کړی دی. مخ مشبه، سپین مشبه به، لکه یې د اداتو کلمه، او رښتینولی (صداقت) یې وجه شبه ده ، چې په بیت په ښکاره ډول سره راغلې ده.

او په دریم بیت کې شاعر خپل ځان له غونچې سره تشبیې کړی دی. شاعر مشبه، غونچه مشبه به، لکه د اداتو توری او غفلت یې وجه شبه ده ، چې ځرګند ډول په بیت کې راغلې ده.

ketabton.com - The Digital Library



ځرنګه ، چې پورته بیتونو ته ګورو ، چې د تشبیې وجه شبــه لفظاً په بیتونو کې ذکر شوې ده ؛نوموړې یې د مفصله تشبیې بېلګې بولو.

۳ - ۲ - **مجمله تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ،چې د طرفینو تر منځ یې د تشبیې وجه لفــظـاً په بیت کې نه وي ذکر شوې.(۶۷:۷).

لکه: په لاندې بېلګو کې:

یـــم اوده لکـــه غـــنـــچـــه د خـــار لـــه درده
خـــبـــر نه شـــوم د راحـــت پـــه خـــواب هـــر ګـــز

(۳: ۱۲۶)

په پورته بیت کې کاظم خان شیدا خپل ځان یې له غنچې سره تشبیې کړی ده. متکلم مشبه، غنچه مشبه به لکه د اداتو توری او وجه شبه یې په دردونو کې راحت لټول دي ، چې په ځرګند ډول په بیت کې نه ده راغلې.

ځرنګه ، چې په پورته بیت کې د طرفینو تر منځ د تشبیې وجه شبه لفــظـاً ذکر نه شوې؛ نود مجملې تشبیې بېلګې یې بولو.

مجمله تشبیې بیا په <u>قریبه</u> او <u>بعیده</u> تشبیې باندې وېشل کیـــږي.

۳ - ۲ - ۱ – **قریبه** (**نیږدې**) **مجمله تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې د تشبیې وجه په ځرګند ډول ذکر نه وي ؛ خو د تشبیې وجه یې ژر او بې له ډېره فکره ذهن ته راشي.(۳۳:۴). لکه په لاندې بیتونو کې:

چې همېش لکـــه مجنـــون په صـحـــرا ګرځـــې
بـــوی د چـــا دزلـــفـــو درغـــی شـــمـــالـــه

(۳: ۲۰۶)

ketabton.com - The Digital Library



په پورته بیت کې شاعر شمال له مجنون سره تشبیې کړی دی. شمال مشبه، مجنون مشبه به، وجه شبه یې سرګرادني، له ځانه بې زاره کېدل دي. په پورته بیت کې د تشبیې وجه لفظاً نه ده ذکر شوې؛ مګر د لوستونکي ذهن ته ژر راځي ؛نو قریبه (نیږدې) مجلمه تشبیې یې بولو.

۳ - ۲ - ۲ – **بعیده** ( **لرې**) **مجمله تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې د تشبیې وجه یې په بیت کې نه وي ذکر شوې او پس له ډېره فکره پیدا شي.(۳۴:۴) لکه د کاظم خان شیدا په دلاندې یوه بیت کې

په شمشېر د قاتل آب وینم د وینو

که ښکاره یې په آبرو شوې د سرو تېکه

(۳: ۲۰۱)

په پورته بیت کې: شاعر د محبوب ابرو د شمشېر سره او تېک یې د وینو آب سره تشبیې کړي دي.

ابرو مشبه، شمشېر مشبه به، کوږوالی یې وجه شبه ده، همدارنګه تېک مشبه د وینو آب مشبه به، سوروالی یې وجه شبه ده ، چې د سرو لفظ په واسطه سره یې ذکر راغلی دی.

مګر د ابرو او شمشېر تر منځ وجه شبه ، چې کوږوالی دی په دې بیت کې ذکر نه ده او پس له ډېره فکره ذهن ته راځي؛نو ځکه بعیده(لرې) مجمله تشبیې ورته ویل کیږي.

**یادونه**: قریبې او بعیدې مجملې تشبیې د وجه شبه پېژندل د سویې په لحاظ توپیر کوي. یعنې یو څوک به د تشبیې وجه شبه ژر پیدا کوي او څوک به یې په ځنډ پیدا کوي.

ketabton.com - The Digital Library



## ۴ - د اداتو په لحاظ د تشبیې وېش

۴ - ۱ - **مرسله یا مظهره** (**ښکاره**) **تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې د تشبیې توري پکې راغلي وي.(۱:۷۵). لکه په لاندې بیتونو کې:

۱-گویا

چې ښکاره په ښکلي مخ د خط سبزه شي
د میده شي په عالم کې گویا صبح

(۳: ۱۱۸)

۲-مثال

په کمان د جمعیت کې پرېشان یم
په مثال یوه دسته یم د گلو

(۳: ۱۵۴)

۳-ته به وایي

وار په وار یې التفات د سترگو وینم
ته به وایې، چې بیمار راځي په ورو ،ورو

(۳: ۱۵۶)

۴-په شان

د حباب په شان تمام له شرمه آب شي
که یې لرې چرې باد د مخ نقاب کا

(۳: ۱۱۱)

۵- لکه

ketabton.com - The Digital Library



چې د زړه وینې مې جوش وهي له سترګو
هر بانه مې لکه خار د کربلا کا

(۳: ۹۷)

۶-په دود

په بستر د ګل قرار نه کا بې یاره
د سبا په دود شیدا دتا اړخونه

(۳: ۲۱۹)

۷-ته به وایې

، چې حیا یې سترګې منع له شوخۍ کا
ته به وایې غزاله د خطا قید وي

(۳: ۲۳۴)

۸- هسې

د نګین عالم خبر ورځني نه دی
هسې ورک شه ستا په عالم کې نام زما

(۳: ۱۰۶)

۹- تر

چې زما په آشتین آه نرم شه
زړه دې سخت راته تر سنګ و آهن راوړ

(۳: ۱۲۵)

۱۰-ګومان

ketabton.com - The Digital Library



ستا ناوک مې همره لک پخته په زړه وي
چې له ورایه به گومان د نیستان کړې

(۳: ۲۹۲)

۱۱- رنگ

څوک به ستا دجمال سیال غواړي ځمکه
دا رنگ شمس و قمر نشته په اسمان کې

(۳: ۲۸۳)

۱۲- گڼه

زنکدن گڼه صحبت د سخت رویانو
حالت نه وینې د نام په هر نگین کې

(۳: ۳۰۴)

په پورته بیتونو کې: گویا ، مثال ، ته به وایې ، په شان ، لکه ، په دود ، هسې ، تر ، گومان ، رنگ ، گڼه او همدارنگه نور د تشبیې ویپکي ، نومونه ، او فعلونه دي ، چې په ښکاره ډول د کاظم خان شیدا په دیوان کې ذکر شوي دي ؛نو موږ د مرسله یا مطلقه تشبیې بېلگې یې بولو.

۴ - ۲ - **موکده تشبیه**: دا هغه تشبیې ده، چې د تشبیې ادات یا کلمې ذکر پکې نه وي شوی.(۷۴:۷) لکه په دالاندې بیتونو کې:

لب یې جام د میو نه دي شکر تال دی
نوی خط یې د کن توري لښکرې

(۳: ۲۷۸)

ketabton.com - The Digital Library



د گـــداز مـــوج مـــې دم پـــه دم زیاتـــیـږي
لــه ســـاحـلــه مـــې ځـــان وســـاتــه دریـــا یم

(۳: ۱۴۹)

شاعر په پورته لومړي بیت کې لب له شکره تال سره، نوي خط یې د دکن تورو له لښکرو سره تشبیې کړي دي، لب مشبه، شکرتال مشبه به،نوي خط مشبه، لښکري مشبه به دي.

په دویم بیت کې شاعر خپل ځان له دریا سره تشبیې کړی دی. متکلم مشبه، دریا مشبه به دي،

لکه څرنگه ، چې په پورته بیتونو کې هیڅ ډول د تشبیې د اداتو ذکر نه دی راغلی ؛ نو ځکه یې د موکدې تشبیې بېلگې بولو.

موکده تشبیه بیا په درې ډوله ( اضافي موکده ، توصیفي موکده او موکده محض) باندې وېشون مومي.

۴ - ۲ - ۱ - **اضافي موکده تشبیه** : دا هغه ډول تشبیې ده ، چې د یو شي اضافت پکې مشبه ته شوی وي او یا د مشبه او مشبه به تر منځ یو اضافي موجود وي، اضافي موکده تشبیې د اضافت له مخې په درې ډوله ده. (۸:۹۷ )

۴ - ۲ - ۱ - ۱ - **تشبیهي اضافت**: دا هغه تشبیې ده ، چې مشبه او مشبه به پکې یو بل ته د اضافت په بڼه راغلي وي. یعنې مشبه مضاف الیه او مشبه به مضاف واقع شوی وي او ؛ کله کېدای شي مشبه مضاف او مشبه به مضاف الیه واقع شي. (۸:۹۷ )

لکه د شیدا په لاندې بیتونو کې:

همېـــشـــه به شیـــدا ځـــان په څه شـــان ژغـــوري
چې مـــدام د زلـــفـــو مـــار وي په تـــور تـــم کې

(۳: ۳۰۲)

ketabton.com - The Digital Library



اخـــر حـــد د سنـگـــدلـۍ دې لا تـــر کـــومـــه
رحـــــم نــه کـــړې د شیـــدا پـه بـــاب هـــرگـــز

(۳: ۱۲۶)

په پورته لومړي بیت کې د (زلفو مار) یو اضافي ترکیب دی. (د) د اضافت ادات، (زلفي) مضاف الیه ، چې مشبه واقع دي. (مـــار) مضاف او مشبه به واقع شوي دي.

په پورته دویم بیت کې شاعر خپل محبوب ته د بې رحمه خطاب کوي او ورته وایي ، چې د تیږې زړه دې دی. د (سنگدلۍ) یو اضافي ترتیب دی. (د) د اضافت ادات، (دل) مضاف الیه ، چې مشبه واقع دي. (سنگ) مضاف او مشبه به واقع شوي دي.

دا ، چې د طرفینو تر منځ د تشبیې ادات نه دي ذکر شوي او د مشبه او مشبه به یې د اضافي ترکیب په ډول راغلي موږ یې د تشبیهي اضافت بېلگې یې بولو.

۴ - ۲ - ۱ - ۲ - **تلمیحي اضافت**: داضافي موکدې تشبیې یو داسې ډول دی ، چې د تشبیې پر وجه شبه پوهېدل په یوه داستان ، پېښې یا موهومې کیسې پورې تړلې وي(۷: ۷۵).

لکه د کاظم خان شیدا په د لاندې یوه بیت کې:

هـــمېشـه لکه نـرگـس گـــورې اســمـــان تـــه
ای د ستـــرگو په ښایســـت بانـــــدې مـغـــــروره

(۳: ۱۷۸)

په پورته لومړي بیت کې شاعر مخاطب له نرگس سره تشبیې کړی دی. مخاطب مشبه، نرگس مشبه به، لکه یې د اداتو توری او وجه شبه یې مغرورتیاده ، چې په بیت کې یې لفظاً ذکر راغلی ده. دغه بیت ،چې موږ لولو؛ نوموږ ته د نرگس دمغروري کیسه په را یادوي ؛نو ځکه یې د تلمیحي تشبیې بېلگه بولو. د نرگس داستان په لاندې ډول ده.

(( په پخواني یونان کې یو ځوان اوسېده، دی ډېـــر ښایستـه ؤ، او ډېرې نجونې پرې مینې وې او په دې ښایسته ځوان پسې مړې وې دا ځوان نرسیس نومېده او له ډېره کبره او غروره یې

ketabton.com - The Digital Library



نجونو ته ورکتل هم نه، دغه ځوان نرگس یا نرسیس د ښکار ډېر شوقي وه. یوه ورځ په ښکار پسې ووت د ښکار په مهال تږی شوي وه چینې ته لاړ او د چینې په غاړه وردېد په چینه کې یې خپل ځان ولیده دی په خپل ځان میین شو داسې میین ، چې په چینه کې یې خپل تصویر پسې زړه وچاودېد او مړ، وروسته دده له تصویره په چینه کې گل راشین شو او اوس دغه گل ته نرگس یا نرسیس وایي)) سرچینه: دلاور اعتماد فېسبوک اکاونټ.

عـــــلــــــي هـــــســــــې غــــــــران شــــېــــــر و،

پــــه مــــيــــــدان کــــــــــې دران شــــېــــــر و،

(۳: ۷۵)

په پورته بیت کې کاظم خان شیدا حضرت علي یې له زمري سره تشبیې کړی دی. علي مشبه، شېر مشبه به او زړورتیا یې وجه شبه راغلي دي. د علي د زړوتیا بېلگې یې موږ د صحابو په کیسو کې مودلی شو لکه د خندق او خیبر په غزا کې ، چې حضرت علي څومره زړور او با جراته وه ؛نو له دې سببه ویلی شو ، چې دا هم د تلمیحي تشبیې بېلگه ده.

۴ - ۲ - ۱ - ۳ - **سمبولیکي اضافت**: دا هم د اضافي موکدې تشبیې یو ډول دی، دا هغه وخت پېښېږي ، چې مشبه به (مضاف) د مشبه ( مضاف الیه ) سمبول یا نښانه وي لکه: ( د صبر ایوب ) ، چې ایوب په خپله د صبر سمبول دی. لکه د ( حسن یوسف ) ، چې لومړي یوسف د ( حسن ) څرگند وي. دی یعنې ( سمبولیکي اضافت ) او بیا تلمیحي اضافت دی ، چې په یو داستان پورې تړلی دی. (۸: ۹۹)

لکه د کاظم خان شیدا په لاندې یوه بیت کې:

چې همېش لکــــه مجنــــون په صـــحـــرا گرځــــې

بــــوی د چـــــا دزلــــفــــو درغـــــی شــــمــــالـــــه!

ketabton.com - The Digital Library



(۳: ۲۰۶)

په پورته بیت کې شاعر شمال یې له مجنون سره تشبیې کړی دی، شمال مشبه ، مجنون مشبه به لکه یې د اداتو توری او وجه شبه یې سرگرداني راغلي ده. زموږ په ټولنه کې څوک د مینې خبرې کوي او یا مېین وي ؛نو موږ یې له مجنون سره تشبیې کوو. یعنې زموږ په ټولنه کې مجنون د مېین او یا د عاشق په سمبول پېژندل شوی دی

**یادونه**: په پښتو ژبه کې د پارسي په خلاف لومړی مضاف الیه او بیا مضاف راځي، که مضاف الیه د (مې، دې، یې، ) ضمایر واقع شي بیا د اضافت وییکي (د) ورسره نه راځي مضاف تر منځ مضاف الیه د مخه راځي.

۴ - ۲ - ۲ - **توصیفي موکده تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې مشبه او مشبه له یې ترکیب ولري، په دې ډول یې صفت د مشبه به او موصوف د شبه په ډول راوړل شوی وي.(۴: ۴۱). لکه په لاندې بیتونو کې:

گــلــر خـــــان لـــــه آیـیـنـــې روگـــردان نـــــه وي
ولـــې نـــه کـــوې نـــظـــر وخــپـــل حـــیـــران تـــه

(۳: ۱۷۰)

ما کـــاتـــــه ستـــا بلـــنـــد قـــــد ته گلـــبــــدنه!
د دستـــــار په ځـــای مـــې ســـر پـــربـــوت له تنـــه

(۳: ۲۱۳)

په پورته لومړي بیت کې گلرخان یو توصیفي ترکیب دی چې گل د رخ لپاره صفت دی. رخان یا مخونه مشبه او گل یې مشبه به دی.

په دویم بیت کې گلبدن ، چې دا هم یو توصیفي ترکیب دی ، چې گل د بدن لپاره صفت دی. بدن مشبه او گل مشبه به راغلي دي.

ketabton.com - The Digital Library



څرنګه ، چې په پورته بیتونه کې ، چې صفت د مشبه به او موصوف د مشبه په ډول راوړل شوي دي؛ نو توصیفي موکده تشبیې یې بولو.

۴ - ۲ - ۳ - **موکده محض تشبیه**: دا هغه تشبیې ده،چې اضافي یا توصیفي ترکیب ونه لري.(۴:۴۳) لکه په لاندې یوه بیت کې:

و چـــشـــمـــانـــو تـــه یـــې خـــم دواړه آبـــــرو دي
صـــیـــادان د غـــــزالانـــو کـــــا ښـــکـــارونـــه

(۳: ۲۲۳)په پورته بیت کې: کاظم خان شیـــدا سترګې له هوسیو سره او دواړه آبرو یې ښکاریانو سره تشبیې کړې دي.

چشمان مشبه،غزالان مشبه به، دواړه آبرو مشبه او صیادان مشبه به راغلي دي.

څرنګه ،چې پورته بیت ته ګورو هېڅ اضافي او توصیفي ترکیب نه لري؛ نو له دې سببه وایو ،چې د موکده محض تشبیې بېلګه ده

ketabton.com - The Digital Library



## ۵ - عــادي او غیــر عــادي ویــش

۵- ۱- **عادي تشبیه**: دا هغه تشبیې ده ، چې د وجه شبه قوت د عادت له مخې په مشبه به کې تر مشبه قوي او څرګنده او هم د وجه شبه معکوسه مانا ورځنې نه اخیستل کیږي.

لکه د خوشحال خان ختټک په لاندې بیتونو کې:

ستا خــوږې شونــډې نبــات دي رقیب مــچ دی
ښــــه خو دا چې یــې لــه شونــډو وشــــړې

***

، چې ژونــدي وي غــم دې نه کانــدي د لــوږې
شنــه تــوتــي ســـره شکــرې نــه دي لــــږې

په پورته لومړي بیت کې خوږې شونډې (مشبه) او نبات (مشبه به) دی، وجه شبه د دواړو تر منځ خوږوالی دی شونډې په خوږوالي کې له نباتو سره تشبیې شوي ، چې مشبه به تر مشبه په صفت کې ځواکمن دی، رقیب (مشبه) او مچ (مشبه به) ، خوږو ته تګ او نه جداکېدل یې (وجه شبه) ده ، چې دلته هم مشبه به تر مشبه د وجه شبه له مخې ځواکمن دی،

په دویم بیت کې هغه کسان ، چې ژوندي (مشبه)، توتي (مشبه به) د رزق رسېدل دواړو ته (وجه شبه) ده ، چې دلته هم دوجه شبه له مخې مشبه به غوره او قوي دی.۱۱۹:۸

څرنګه ، چې په پورته بیتونو کې مشبه به تر مشبه قوي او غوره ښکاري ؛نو عادي تشبیې یې بولو.

### ۵- ۲- غیر عادي تشبیې

غیر عادي تشبیې په دوه ډوله ده:

۵- ۲ - ۱- **تفضیلي تشبیه**: په تفضیلي تشبیې کې د وجه په لحاظ مشبه تر مشبه به قوي وي او دغه مشبه د وجه شبه قوت ته په مشبه کې خپله د شاعر په واسطه زیادت ورکړل شوی دی.(۴۵:۴)

ketabton.com - The Digital Library



لکه په لاندې بیتونو کې:

چې زما په آتشین آه نرم نه شه
زړه دې سخت راته تر سنگ و آهن راوړ

(۳: ۱۲۵)

د نرگس تر گل یې زیاته زیبایي وي
چې په سترگو کې خندا زما اجمل کا

(۳: ۱۰۱)

په پورته لومړي بیت کې شاعر د مخاطب زړه له کاڼي او او سپنې څخه کلک گڼي، زړه مشبه، سنگ او آهن مشبه به راغلي دي. او هم وجه شبه یې کلکوالی ښودل شوی دی.

په دویم بیت کې شاعر وایي، چې؛ کله زما اجمل خاندي؛ نو د نرگس گل زیات ښایسته وي. اجمل مشبه، نرگس مشبه به دي. وجه شبه یې ښکلا ده.

څرنگه، چې وجه شبه قوت په ټولو مبشه گانو کې ډېر دی؛ نو تفضیلي تشبیې یې بولو.

۵ - ۲ - ۲-**مقلوبه تشبیه**: مقلوبه تشبیې د غیر عادي تشبیې یو ډول دی. په دې تشبیې کې د عادي وجه شبه غرض تضاد وي.(۴:۴۶)

لکه په لاندې بیتونو کې:

د آفتاب په کمند نه خېژم اسمان ته
نه ږدم بار لکه شبنم په دوش د گلو

(۳: ۱۵۴)

شوال مې خوی له درافشانه ابره نه دی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو

(۳: ۱۵۴)

ketabton.com - The Digital Library



په پورته لومړي بيت کې آفتاب کمند د کنايې په ډول د لمر شعاع او د رسۍ سره تشبيې ده.
د (ږدم) يا (خېژم) د کلمو (م) ، چې د مفردمتکلم لپاره فعلي ضمير يا فعلي خاتمه ده مشبه او شبنم يې مشبه به دی.

ځرنګه ، چې شبنم خپل بار د ګلانو په اوږو ږدي او آفتاب په خپل کمند اسمان ته خيژي، ليکن شاعر ( ، چې دلته مراد کاظم خان شيدا دی ) نه خپل بار د ګلانو په اوږو ږدي او نه د خپل عالي همت له برکته د آفتاب په کمند اسمان ته خيژي.

دلته د شاعر او شبنم تر منځ غرض توپير کوي يعنې غرض مقلوب او تضاد دی نودا حکم کوو ، چې تشبيې مقلوبه ده.

دويم بيت کې: ( مې ) مفرد متکلم متصل يا کمزوری ضمير مشبه، صدف مشبه به دی ؛ مګر د شاعر او صدف تر غرض توپير کوي؛ نو ځکه يې مقلوبه تشبيې بولو.

ketabton.com - The Digital Library



## ۶ - د ماهیت په لـحـــاظ د تشبیې وېش

د طرفینو د ځانګړنې او خصوصیاتو له مخې تشبیې په لاندې ډولونو وېشل کیږي:

۶ - ۱- **محسوسه تشبیه له محسوسې سره** : چې دتشبیې طرفین یا د دواړه اړخونه په پنځو حواسو (لیدل، بوی کول، اورېدل، څکل او لاس وهلو سره) معلومیږي.

لکه د کاظم خان شیدا په لاندې بیت کې:

ستا مــژګــان هســې لیــده شي په چــشــمــانو
لــکــه ولــګــــي نـــاوک پـــــه آهـــوانــــو

(۳: ۱۵۶)

و چــشــمــانـو تــه یــې خــم دواړه آبــــرو دي
صــیــادان د غـــــزالانــو کـــا ښــکــارونــه

(۳: ۲۲۳)

په پورته بیت کې شاعر د مخاطب باڼه له غشو سره، او سترګې یې له هوسیو سره تشبیې کړي دي، مژګان مشبه، ناوک مشبه به، چشمان مشبه، آهوان مشبه به او لکه یې د اداتو توری راغلي دي. څرنګه ، چې د تشبیې دواړه خواوې مشبه او مشبه به د حس کېدلو وړ دي؛ نو محسوسه له محسوسې سره تشبیې یې بولو.

دویم بیت کې شاعر د مخاطب سترګې له هوسیو سره او وربځې له ښکاریانو سره تشبیې کړي دي. چشمان مشبه، غزالان مشبه به، صیادان مشبه، آبرو مشبه به دي. څرنګه ، چې تشبیې ته ګورو ، چې مشبه او مشبه به یې وړ دي؛ نو مونږ ، چې دا تشبیې محسوسه له محسوسې سره ده.

څرنګه ، چې په پوته بیتونو ته ګورو ، چې د تشبیې طرفین ( مشبه او مشبه به ) د حس کېدو وړ یعنې په پنځګونو خواصو معلومیږي؛ نو له دې سببه ویلی شو ، چې محسوسه محسوسې سره تشبیې ده.

ketabton.com - The Digital Library



۶ - ۲- **معقوله تشبیه له معقولې سره** : چې د تشبیې دواړه اړخونه ( مشبه او مشبه به ) د ذهن سره تعلق ولري او په حواسو نه معلومیږي. ما د ددې ډول تشبیې بېلګې د کاظم خان په دیوان کې پیدا نه کړې. د دغې تشبیې بېلګې په لاندې بیت ، څلوریزه او لنډۍ کې کتلی شو.

خوشحالي د یار ژوندون خپګان یې مرګ دی
مرګ او ژوند دواړه پیشیږي اشنایي کې

(سید رسول رسا)

د ځوانۍ سپرلی یې تېر لکه خزان شو
، چې بلا د رنځورۍ پرې مېلمنه شوه
د قدرت ستم ته ګوره چې مرګ راغی
هغه وخت ، چې د غزل شونډه یې شنه شوه

( حمزه شینواری )

دیدن ژوندون او بېلتون مرګ دی
زه د مرګي سختۍ ژوندون ته تېرومه

***

په پورته لومړي بیت کې شاعر وايي ، چې په اشنایي کې د محبوب خوشحاله لیدل، د عاشق ژوند ، د محبوب خپه کېدل په ژوند او مرګ کې راځي. خوشحالي د ژوند سره او خپګان د مرګ سره تشبیې کړې دي.

په دویمه څلوریزه کې ( درنځورۍ بلا ) یو اضافي ترکیب دی ، چې ( رنځورۍ ) مضاف الیه او مشبه او ( بلا ) مضاف او مشبه به، ( د ) د اضافت ادات دی.

ketabton.com - The Digital Library



او په دربیمه لنډۍ کې دیدن له ژوندون سره او بېلتون یې له مرگ سره تشبیې کړی دی.

 څرنگه ، چې په پورته بیتونو کې مشبه او مشبه به دواړه اړخونه له ذهن سره تعلق لري په پنځگونو حواسو نه مالومیږي؛ نو ویلی شو ، چې دا تشبیې معقوله له معقولې سره ده.

۶ - ۳- **معقوله تشبیه له محسوسې سره**: دا هغه تشبیې ده،چې مشبه، به یې معقوله یعنې په پنځو ځرگندو حواسو نه حس کیږي او مشبه به، به یې محسوسه وي.

لکه په لاندې بیتونو کې:

کـــړه یــــې وا لکــــه گِـره د تـــورو زلـــــفـــو
بـــاریـــکـــي لـــري تـــمـــام دیـــوان زمـــا

(۳: ۹۹)

کـــه بـیــدارلکـــه تصـــویر لـــــه خـــوبه نـــشو
په دا حـــال له خـــپله بختــه شیـــدا خــوبن یــم

(۳: ۱۴۰)

په پورته لومړني بیت کې دیوان باریکي ، چې یو ذهني مفهوم دی مشبه د تورو زلفو غوټه ، چې محسوسه ده مشبه به، د تشبیې یو اړخ ( مشبه ) معقوله او بل اړخ ( مشبه به ) محسوسه ؛نو ځکه ورته معقوله تشبیې له محسوسې سره بولو .

په پورته دویم بیت کې بخت مشبه اومعقوله، تصویر مشبه به او محسوسه ده؛ نو دا هم د لومړي بیت په څېر معقوله تشبیې له محسوسې سره ده.

څرنگه ، چې په پورته بیتونو کې د تشبیې طرفین یعنې مشبه د حس کېدو وړ نه دی او له ذهن سره تعلق لري او مشبه به د حس کېدو وړ دی؛ نو ویلی شو ، چې معقوله، له محسوسې سره تشبیې ده.

۶- ۴- **محسوسه تشبیه له معقولې سره**: چې د محسوسه څیز تشبیې له معقولې څیز سره وشي.

ketabton.com - The Digital Library



لکه په لاندې بیتونو کې:

تورې زلفې دې آفت دواړه رخسار هم
هیڅ تعبیر یې په چا نه شي بې شبخونه

(۳: ۲۱۵)

سترگې پورته په ادا زما افتاب کړې
که فتنه شوه د سحر په وخت بیداره

(۳: ۱۷۶)

په پورته لومړي بیت کې شاعر زلفې او رخسار یې له آفت سره تشبیې کړي دي. زلفې او رخسار مشبهات دي او آفت مشبه به راغلي دي. په دویم بیت کې شاعر د خپل محبوب سترگې له فتنې سره تشبیې کړي دي.سترگې مشبه، فتنه مشبه به دي. څرنگه ، چې په پورته بیتونو کې مشبه زلفې، رخسار او سترگې حس کېدلو وړ دي، او مشبه به آفت او فتنه د حس کېدو وړ نه دي له ذهن سره تعلق لري؛ نو ویلي ، چې دا تشبیې محسوسه له معقولې سره ده.

ketabton.com - The Digital Library



## ۷ - د طرفينو د تعادل په لحاظ د تشبيې وېش

د طرفينو د تعادل په لحاظ تشبيې په تسويه او جمع باندې وېشل کيږي.

۷- ۱- **تسويه**: لغوي مانا يې برابروالی دی. دا هغه تشبيې ، چې ده ، چې د يوه مشبه لپاره يوازې يوه مشبه به راوړل شوې وي.(۴:۵۵).

لکه په لاندې بيتونو کې:

ستــا مــهــجـــور لـــه ډېـــره درده آه فـــعـــان کـــړ
که ويشتلي طـوطـي چـــيـــغ په هنـدوستـــان کړ

(۳: ۱۲۳)

بيـــمـــاری د مينـــې هســـې کـــړم بـــې تـــابـــه
چـــې مـــې ورک لکـــه نـــرگس آه او زگېـــروی دی

(۳: ۲۸۸)

په پوره لومړي بيت کې شاعر مهجور يې د هندوستان طوطي سره تشبيې کړی دی. مهجور مشبه، طوطي مشبه به دي،ځرنگه ، چې د يوه مشبه لپاره يوه مشبه به راغلې ده؛ نو ځکه يې تسويه بولو.

او په دويم بيت کې شاعر خپل ځان د نرگس سره تشبيې کوي. شاعر مشبه، نرگس مشبه به، لکه يې د اداتو توری (کلمه) او چوپتيا يې وجه شبه راغلې ده.

په پورته بيتونو کې ځرنگه ، چې گورو د يوې مشبه لپاره يوه مشبه به راغلې ده؛ نو دا هم د لومړي بيت په ډول د تسويه تشبيې په ډلې دريږي.

ketabton.com - The Digital Library



## ۷- ۲- جمع

جمع تشبیې په دوه ډوله ده.

**الف** – ، چې د یوې مشبه لپاره څو یا د یوې نه زیاتې مشبه به راغلې وي.

**یا په بله وینا**: ، چې د یو شیز ته د ډېرو یا ګڼو شیزونو سره تشبیې ورکړې شوې وي، یعنې په همدې یو شیز کې دا ټولې ماناګانې راجمع وي.(۵۸:۴)

لکه په لاندې بیتونو کې:

زړه دې وچـوي تـــوره شپـه ســتا د سنبـلو
ښکلـي مـــخ لکـــه ســحـــر ګـل و نـســریـن کړه

(۳: ۱۸۶)

څوک به ستا دجمـــال سیـــال غـــواړي ځمکـــه
دا رنګ شمـــس و قمـــر نشـــته په اسمـــان کې

(۳: ۲۸۳)

په پوره بیت کې شاعر د خپل محبوب مخ له سحر او نسرین سره تشبیې کړی دی.مخ مشبه، سحر ګل ، نسرین مشبه به او لکه یې د اداتو توری دی.

او په درېیم بیت کې شاعر د خپل محبوب حسن لمر او سپوږمۍ ګڼي. جمال مشبه، شمس او قمر مشبه به، رنګ یې ادات او رونوالی یې وجه شبه ګڼلې دي.

څرنګه ، چې د یوې مشبه لپاره څو مشبه به راغلي دي؛ نو د طرفینو د تعادل په لحاظ جمع تشبیې ده.

**ب** – چې د څو مشبه ګانو لپاره یوه مشبه به راغلې وي.(۶۰:۴).

لکه د هندي سبک نازک خیال شاعر کاظم خان شیدا په لاندې بیتونو کې:

ketabton.com - The Digital Library



په سبزه کې یې د خط و لب جلوه
که موجونه دي د میو په مینا کې

(۳: ۲۶۹)

توري زلفې دې آفت دواړه رخساره هم
هیڅ تعبیر یې په چا نه شي بې شبخونه

(۳: ۲۱۵)

که سرداران دي یا تاجداران دي
که یې گنجونه بس فراوان وي
زیست یې محل دی چې شي بې ځمکې
پاتې په خاورو گویا ماران دي

(۳: ۳۷۷)

په پورته لومړي بیت کې شاعر د مخاطب خط او لب له موجونو سره تشبیې کړي دي. خط او لب مشبه، موجونه مشبه به راغلي دي.

په دویم بیت کې شاعر وایي ، چې د محبوب تورې زلفې او دواړه رخساره افت دی. زلفې او رخسار مشبه، آفت مشبه به دي.

او په پورته درېیمه څلوریزې کې: شاعر سرداران ، تاجداران یې له مارانو سره ورته کړي دي وایي ، چې دوی هم لکه ماران په خزانو مشغول وي. سرداران ، تاجداران مشبهات او ماران مشبه به راغلي دي.

په پورته بیتونو کې مشبهات د یوه نه ډېر او مشبه به یوه ده. د طرفینو تر منځ تعادل برابر نه دی؛ نو جمع تشبیې ده.

ketabton.com - The Digital Library



# پایله

دغه مونوگراف ما په دوو برخو وېشلی دی په لومړۍ برخه کې ما شاعر پېژندنه ،د بیان لغوي او اصطلاحي پېژندنه ، د بیان علم موضوع،د بیان علم گټې ، تشبیې پېژندگلوي ، تشبیې ارکان ، تشبیې ادات اود تشبیې ارزښت له پوره جزیاتو سره تشریح کړي دي

په دویمه برخو کې ما بیا د کاظم شیدا په دیوان د تشبیې ډولونه راوړي دي لکه: د طرفینو د موقیعت په لحاظ د تشبیې وېش، د ابتذال او ندرت په لحاظ د تشبیې وېش، د وجه شبه په لحاظ د تشبیې وېش، د اداتو په لحاظ د تشبیې وېش، عادي او غیر عادي وېش، د ماهیت په لحاظ د تشبیې وېش، د طرفینو د تعادل په لحاظ د تشبیې وېش راخیستي دي. ، چې بیا دغه ډولونه په نورو لویو او کوچنیو ډولونه وېشل کیږي. او ما بیا د غه دتشبیې ټول ډولونه د کاظم خان شیدا د شعري بېلگو سره یو ځای تشرېح کړي دي.

پاتې دې نه وي ، چې ما په دغه پایلیک کې: مفروقه تشبیې ، معقوله تشبیې له معقولې سره ،او بله عادي تشبیې وېش ډېر کوښښ مې وکړ او دشیدا دیوان مې پسې لټ په لټ واړوه ؛ خو پیدا مې نه کړل. او دغه خالیگا مې د پښتو ژبې په نوره خوږه شاعرۍ باندې ډکه کړه.

او همدارنگه ما په دغه پایلیک کې:د پیل خبرې ، سریزه ، فهرست ، پایله ، وړاندیزونه ، اخځلیکونه او نور د لارښود استاذ په مشهوره ترتیب او بشپړ کړي دي.

ومن الله توفیق

ketabton.com - The Digital Library



# وړاندیزونه

دژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې له امر څخه مې داهیله ،چې هغه محصلین ،چې په راتونکو کالونه کې به فارغیږي هغوی ته باید څو میاستې مخکې د نوموګراف لپاره موضوع ورکړل شي.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له رییس صاحب څخه مې مې یوه غوښتنه چې په دغه پوهنځي کې د محصلینو لپاره د انټرنیټ سهولتونه زیات کړي.

ketabton.com - The Digital Library



# اخځلیونه


۱- درمل، احسان الله. (۱۳۹۵)، شعرستان.کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

۲- زیور، زیورالدین .(۱۳۸۹هـ ش)،دپښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور:مهین خپرندویه ټولنه.

۳- شیدا، کاظم خان. (۱۳۹۳هـ ش)، د کاظم شیدا دیوان. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۴- شیرزاد، محمد آقا. (۱۳۸۷هـ ش)، ادبي فنون (بیان برخه) خپرندویه ټولنه، د ښوونکو د روزنې لوی ریاست.

۵- قویم، عبدالقیوم.(۱۳۶۱هـ ش) فنون ادبي بیان.انتشارات: پوهنتون کابل.

۶- مسلم، دوست عبدالرحیم. (۱۳۷۹هـ ش)، خوږه ژبه. پېښور: سبا کتابتون.

۷- ناګار، فضل ولي.(۱۳۸۹هـ ش)،د بیان علم[ ادبي فنون ]. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.

۸- همکار، محمد ابراهیم (۱۳۹۴هـ ش)، بیان ادبي فنون. جلال آباد :مومند خپرندویه ټولنه.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*